

# د عامې روغتیا وزارت اوونیزه!

## (پرلیکه خپرونه)

- اندراګاندي د ماشومانو روغتون کې په لومړي ځل د زړه جراحي او هیموډیالیز څانګو پرانیسته.
- د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ د رهبرۍ بورډ ۱۷مه ناسته ترسره شوه.
- د اسلامي همکاریو سازمان(OIC)سفیر سره د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي ناسته.
- عامې روغتیا وزیر، سره د نړیوالو روغتیایي شریکانو د همغږۍ ناسته.
- د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې له روغتیایي سکتور څخه د نظارت ترسره کېدل.

**۱۴۴۷-۰۳-۰۴** لومړی پړاو-لومړی ګڼه

د ویاندویي اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست





# لـومړي ځل لپاره د هيواد په دولتي روغتيايي سکـتور کې د ماشـومـانو د زړه د جراحــۍ او هيموډياليز څانګې پرانيستل شوې

په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د بهرنيو چارو وزير ښاغلي مولوي امير خان متقي، د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت مرکزي رئيسانو، د مرکزي روغتونونو رئيسانو، اندراګاندي د ماشومانو درملنې روغتون روغتيايي کارکوونکو، د روغتيا نړيوال سازمان، يونيسف ايمرجنسي بنسټ، سره صليب، افغاني سرې مياشتې او رسنيو استازو ګډون کړی و.

د عامې روغتيا وزير، په دې مراسمو کې وويل: ( د خوښۍ او وياړ ځای دی، چې د افغانستان په دولتي سکتور کې د لومړي ځل لپاره د ماشومانو د زړه جراحي خلاص عملياتونو او د هيموډياليز څانګې په اندراګاندي د ماشومانو درملنې روغتون کې پرانيستل شوې، زه دا اقدام د فوق تخصصي خدمتونو وړاندې کولو په لور يو لوی او تاريخي ګام ګڼم او زموږ د هېواد روغتيايي ټيم توانېدلی چې تر دې دمه په دې څانګه کې د زړه جراحي درې عملياتونه په برياليتوب سره ترسره کړي)

د عامې روغتيا وزير همدارز زياته کړه، د عامې روغتيا وزارت د خپلې ستراتيژۍ پر بنسټ د نويو سيستمونو په جوړولو، د مسلکي کارکوونکو په روزنه او په پرمختللو تجهيزاتو سره د روغتونونو په سمبالولو کار کړی دی او نن ورځ يې د ماشومانو د زړه ناروغيو د درملنې برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ترلاسه کړې دي.

په دې غونډه کې همدارز د هيواد د بهرنيو چارو وزير، ښاغلي مولوي امير خان متقي وويل: "نن ورځ موږ په ټول هېواد کې د نويو خدمتونو شاهدان يو او زه د عامې روغتيا وزارت ټولو کارکوونکو او ډاکټرانو ته د دې لويې لاسته راوړنې مبارکي وايم، چې الله تعالی تاسو ته دا "لويه بريا نصيب کړه، په څانګړې توګه د ماشومانو د زړه جراحي په برخه کې لاسته راوړنې او پرمختګ، چې دا د وياړ خبره ده.

د بهرنيو چارو وزير زياته کړه، موږ په نړيوالو ادارو غږ کوو، چې بشري مرستې هڅه وکړې، په پراختيايي مرستو بدلې کړي، تر څو په هېواد کې زيربناوې او بنسټيز کارونه پياوړي شي او زموږ هېوادوال وکولای شي په کور دننه ځان بسياينې ته ورسيږي.

د دې غونډې په دوام د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د دې خدمتونو پيل د عامې روغتيا وزارت او روغتيايي کارکوونکو د اوږدمهاله هڅو پايله وبلله او ويې ويل: "اسلامي امارت روغتيايي سکتور ته ځانګړې پاملرنه کوي، او زموږ هدف د يو باکيفيته روغتيايي سيستم رامينځته کول دي؛ تر څو هر افغان باکيفيته روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ولري".

د يادونې وړ ده، چې د عامې روغتيا وزارت په پام کې لري، د اکمال تخصص پروګرام له لارې ډاکټران وروزي او په ټول هېواد کې د زړه جراحۍ د خلاصو عملياتونو زمينه برابره کړي.





# For the First Time in Afghanistan's Public Health Sector, Pediatric Heart Surgery and Hemodialysis Units Inaugurated.

In a special ceremony held for this purpose, the Minister of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mawlawi Noor Jalal Jalali; Minister of Foreign Affairs, Mawlawi Amir Khan Muttaqi; Deputy Minister for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, central directors of the ministry, directors of national hospitals, medical staff of Indira Gandhi Children's Hospital, representatives of the World Health Organization, UNICEF, Emergency Foundation, Red Cross, Afghan Red Crescent, and members of the media were present.

During the event, the Minister of Public Health said:

"It is a moment of joy and pride that, for the very first time in Afghanistan's public sector, paediatric open-heart surgeries and a haemodialysis unit have been launched at Indira Gandhi Children's Hospital. I consider this a historic step towards delivering super-specialized medical services. Our national medical team has already successfully carried out three open-heart surgeries in this new unit."

He further added that, in line with the ministry's strategy, significant work has been done in establishing new systems, training professional staff, and equipping hospitals with advanced technology. As a result, remarkable achievements have been made today in the treatment of children's heart diseases.

Speaking at the same ceremony, the Minister of Foreign Affairs, Mawlawi Amir Khan Muttaqi, stated:

"Today we are witnessing new services across the country. I extend my heartfelt congratulations to all the staff and doctors of the Ministry of Public Health for this great achievement, granted by Allah Almighty. In particular, the progress in paediatric heart surgery is truly a matter of national pride."

The Foreign Minister also called on international organizations to transform humanitarian aid into development assistance so that Afghanistan's infrastructure and essential services can be strengthened, enabling Afghans to achieve self-reliance within their own country.

Meanwhile, the Deputy Minister for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, described the launch of these services as the result of the ministry's and health workers' long-term efforts. He said:

"The Islamic Emirate is giving special attention to the health sector, and our goal is to establish a high-quality healthcare system so that every Afghan has access to quality medical services."

It is worth mentioning that the Ministry of Public Health plans to train doctors through the specialty program and expand open-heart surgery facilities for children across the country.

# محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت‌عامه ا.ا.ا، با تمویل‌کننده گان و شرکایی بین‌المللی بخش صحت، نشست هماهنگی برگزار کرد.

در این نشست، محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، نماینده گان سازمان صحی جهان، یونیسف، بانک جهانی Gavi و سایر سازمان‌های تمویل‌کننده اشتراک داشتند که در آن، وضعیت فعلی سکتور صحی افغانستان، اهمیت کمک‌ها و برنامه‌های آینده مورد بحث قرار گرفت. محترم وزیر صحت‌عامه، مدیریت مؤثر منابع، تعهد به اصل شفافیت و مبارزه با فساد را مسوولیت مشترک برای ارائه خدمات باکیفیت و مؤثر توصیف کرد و افزود، که پس از سال ۲۰۲۶، یک برنامه استراتژیک روشن و درازمدت برای سکتور صحی افغانستان وجود خواهد داشت، که در آن نقش تمویل‌کننده گان این وزارت روشن شده و ادغام خدمات پس از ارزیابی جامع به شیوه‌ای منطقی اجرا خواهد شد. همچنان، محترم وزیرصحت‌عامه گفت:« که تدوین یک استراتیژی جدید صحی در حال اجرا است، که برای تقویت بخش صحت‌عامه حیاتی خواهد بود و روند بررسی خدمات EPHS و BPHS نیز آغاز شده است تا کیفیت خدمات صحی اولیه و ثانویه بلند رفته، صحت مردم حفظ و نیازهای آنها برآورده شود.

از سوی‌هم، نماینده گان سازمان صحی جهان، یونیسف، بانک جهانی، Gavi و سایر سازمان‌های کمک‌کننده گفتند، که حمایت خود را با سکتور صحی افغانستان تا سال ۲۰۲۶ تمدید خواهند کرد و در این مدت، علاوه بر تأمین مالی این برنامه ها، در بخش خدمات صحی عاجل (HER) ، با وزارت صحت‌عامه همکاری نزدیک و مشارکتی خواهند داشت.

## Afghanistan's Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, held a coordination meeting with donors and international partners.

The meeting was attended by the Deputy Minister of Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani; as well as representatives from the World Health Organization, UNICEF, the World Bank, Gavi, and other donor organizations. Participants discussed the current status of Afghanistan's health sector, the importance of aid, and future plans. The Minister of Public Health emphasized that effective resource management, adherence to the principle of transparency, and the fight against corruption are shared responsibilities in ensuring the delivery of quality and efficient services. He further noted that after 2026, a clear and long-term strategic plan for Afghanistan's health sector will be introduced, defining the roles of the ministry's donors and ensuring the logical integration of services following a comprehensive assessment.

His Excellency Jalali, the Minister of Public Health, emphasized that a new health strategy is being developed to strengthen the public health sector. He also mentioned that the review of BPHS and EPHS services has started, aiming to enhance the quality of primary and secondary health care, safeguard public health, and better respond to the needs of the people.

On the other hand , representatives of the World Health Organization, UNICEF, the World Bank, Gavi, and other donor organizations expressed their commitment to continue supporting Afghanistan's health sector until 2026. They stated that, during this period, they will work closely with the Ministry of Public Health while also funding the Health Emergency Response (HER) program.





## The Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, Meets with the Governor of Uruzgan, Enayatullah Shuja, in His Office

During the meeting, discussions were held on enhancing the health services in Uruzgan province, ensuring the provision of improved care to the population, and finding solutions to the existing challenges in the health sector.

The Governor of Uruzgan, while expressing his gratitude to the Ministry of Public Health for its attention and cooperation, called for the upgrading of the provincial hospital to increase the number of beds from 100 to 200 and to ensure that the needs of inpatients are adequately met.

Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health, pledged the Governor of Uruzgan of the expansion of health services, the resolution of existing challenges, and the provision of necessary facilities, emphasizing that the Ministry is committed to delivering essential and equitable health services to all residents of the country.

## د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د ارزګان له والي، مولوي عنایت الله شجاع سره ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې ارزګان ولایت کې د روغتیایي خدمتونو پراختیا، خلکو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو او شته ستونزو د حل په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

د ارزګان والي، د عامې روغتیا وزارت له پاملرنې او همکارۍ څخه د مننې تر څنګ د ولایتي روغتون د ارتقاء غوښتنه وکړه؛ ترڅو د یاد روغتون د بسترونو شمېر له ۱۰۰ څخه ۲۰۰ ته زیات او د بستر ناروغانو لازمې اړتیاوې پوره شي.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ارزګان والي ته د روغتیایي خدمتونو د پراختیا، شته ستونزو د حل او اړینو اسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکړ او ویې ویل، د عامې روغتیا وزارت ژمن دی، چې د هېواد ټولو اوسېدونکو ته لازم او عادلانه روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.



## د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ!
## بورډ ۱۷مه ناسته ترسره شوه

یاده ناسته د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ د وزارت مرستیالانو او مرکزي رئیسانو په شتون کې ترسره شوه، چې په کې د تدارکاتي پروسو د شفافیت او چارو ژر ترسراوي، د درملو د بیو کنټرول، د بې کیفیته درملو مخنیوي او داخلي تولیداتو ته د لومړیتوب ورکولو په اړه هر اړخیز بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ریاستونو تر منځ د لا زیاتې همغږۍ، د درملو برخه کې داخلي تولیداتو ته د لومړیتوب ورکولو او د بې کیفیته درملو مخنیوي، تدارکاتي پروسو د شفافیت او د چارو ژر ترسراوي په اړه لازمي سپارښتنې ترسره کړې؛ تر څو داخلي تولیدات تقویه، شفافیت رامنځته او د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړ شي.

سربېره پر دې د شفرې نسخو د جدي څارنې او د Comprehensive ازموینې د پایلو پر څرنګوالي هم هر اړخیز بحث تر سره او پرېکړه وشوه، چې د درملو په پېریدلو کې باید داخلي تولیداتو ته لومړیتوب ورکړل شي، د دولتي روغتونونو د اړتیاوو ارزونه ترسره او ورته دې لازم توکي او تجهیزات وپېرل شي او له اړتیا پرته دې له دولتي روغتونونو څخه د ناروغانو د راجع کولو جدي مخنیوی وشي همدارار، په دغه ناسته کې د عامې روغتیا وزارت ښاغلو مرستیالانو او رئیسانو د چارو د ښه ترسراوي په اړه خپل نظرونه وړاندې او د تېرو ناستو د پرېکړو راپورونه یې له ښاغلي وزیر سره شریک کړل.

## Ministry of Public Health Holds 17th Leadership Board Meeting

The meeting was held under the Minister of Public Health, His Excellency Mawlawi Noor Jalal Jalali, with the participation of the deputy ministers and central directors of the ministry.

Comprehensive discussions focused on ensuring transparency and the timely resolution of procurement processes, controlling prices, preventing low-quality medicines,

prioritizing domestic products, and improving marketing strategies.

The Minister of Public Health, provided key recommendations to enhance coordination between directorates, prioritize and promote domestic pharmaceutical products, prevent substandard medicines, ensure transparency in procurement processes, and expedite the resolution of affairs. These measures aim to strengthen domestic products, improve transparency, and enhance the quality of health services.

In addition, comprehensive discussions were held on the strict monitoring of prescriptions and thorough comprehensive examination. Decisions were made to prioritize domestic products in medicine procurement, assess the needs of government hospitals and procure necessary supplies and equipment, and strictly prevent the referral of patients from government hospitals to private hospitals.

In this meeting, the deputy ministers and directors of the Ministry of Public Health presented their views on improving the management of affairs, and shared reports on the implementation of decisions from previous meetings with the Minister.



## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي
## د اسلامي همکاریو سازمان(OIC) سفیر ښاغلي العیاش سره  په خپل کاري دفتر کې لیدنه تر سره کړه!

د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د اسلامي همکاریو سازمان (OIC) سفیر ښاغلي العیاش سره  په خپل کاري دفتر کې لیدنه تر سره کړه.

په دې لیدنه کې د روغتیا په برخه کې د اړیکو په پیاوړتیا ، همدارنگه د ملک سلمان د بشري مرستو او همکارۍ مرکز (KSRelief) لخوا د افغانستان د روغتیایي سکټور د ملاتړ او په افغانستان کې د راتلونکو روغتیایي پروگرامونو په اړه معلومات تبادله شول.

ښاغلي وزیر، د اسلامي همکاریو سازمان رول په اسلامي نړۍ کې ارزښتناکه وباله او زیاته یې کړه، د اسلامي همکارۍ سازمان باید د روغتیا په برخه کې د افغان ولس پیغام او اړتیا له نړۍ سره شریکه کړي د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، روغتیایي. خدماتو ته لاسرسی د خلکو حق وباله او ټینگار یې وکړ، چې د روغتیا برخه باید له سیاست څخه لرې وساتل شي. ښاغلي وزیر همداراز وویل: هڅه کوي چې د نړیوالو مرستو تر څنگ د خپلې داخلي بودیجې څخه په استفادې د روغتیایي سیستم پراختیا او معیاري کولو لپاره لا ډیر کار وکړي، چې له نېکه مرغه په دې وروستیو کې په یو شمېر سترو روغتیایي پروژو کار په چټکۍ سره روان دی بل لور ته د اسلامي همکاریو سازمان استازو هم د اړیکو پیاوړتیا تر څنگ په افغانستان کې د روغتیایي سیستم پراختیا او ملاتړ په موخه د همکارۍ ژمنه وکړه.

## Afghanistan's Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, Meets with the Ambassador of the Organization of Islamic Cooperation(OIC) to Afghanistan, Mr. Al-Ayash, in His Office.

At the meeting, they exchanged information on enhancing collaboration in the health sector, the assistance provided by the King Salman Humanitarian Aid and Relief Center (KSRelief) to Afghanistan's healthcare system, and upcoming health initiatives in the country. His Excellency Jalali, the Minister of Public Health, highlighted the valuable role of the Organization of Islamic Cooperation (OIC) in the Islamic world and emphasized that the OIC should convey the message and health-related needs of the Afghan people to the international community. He also, described access to health services as a fundamental right of the people and emphasized that the health sector must remain free from political influence. The Minister of Public Health also stated, "In addition to international aid, we are working to further develop and standardize the health system using our internal budget." He added that, fortunately, several major health projects have been progressing rapidly in recent times. On the other hand, representatives of the Organization of Islamic Cooperation (OIC) also committed to cooperating in strengthening ties and supporting the development and enhancement of Afghanistan's health system.







## د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ معینیت کې د اړوندو ریاستونو مسؤلینو سره د همغږۍ ناسته تر سره شوه.

په دې ناسته کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال، ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي، د معینیت مشاورینو او د اړوندو ریاستونو مسؤلینو شتون درلود، چې په کې د تېرو ناستو د پرېکړو، ترسره شویو فعالیتونو، لا زیاتې همغږۍ او د روغتیا سیستم د ښه والي او پیاوړتیا په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

دغه راز، د اړوندو ریاستونو مسؤلینو خپل فعالیتونه، ستونزې او لاسته راوړنې له ښاغلي مرستیال سره شریکې کړې، چې د نوموړي له لوري ورته د پاملرنې او همکارۍ ډاډ ورکولو تر څنګ د چارو د ښه ترسراوي په اړه لازمې سپارښتنې هم وشوې.

## The Deputy Minister's Office for Health Promotion and Policy of the Ministry of Public Health Holds a Coordination Meeting with Officials from the Relevant Directorates.

The meeting was attended by Dr. Mohammad Hassan Ghiasy, Deputy Minister for Health Promotion and Policy at the Ministry of Public Health, along with advisors to the deputy minister's office and officials from relevant directorates. The agenda included reviewing decisions from previous meetings, evaluating completed activities, enhancing coordination, and discussing measures to improve and strengthen the health system. In addition, officials from the relevant directorates presented their activities, challenges, and achievements to the Deputy Minister, who assured them of his support and cooperation and offered the necessary recommendations for more effective management of affairs.



## د بهرنيو او داخلي ډاکټرانو د فعاليت د تنظيم په موخه د هېواد له خصوصي روغتيايي مرکزونو څخه د نظارت لړۍ پيل شوې.

دغه نظارت د عامې روغتيا وزارت د طبي شورا لوی رئيس، ډاکټر فقير محمد زيار په مشرۍ د يوې باصلاحيته کمېټې له لوري ترسره کېږي؛ ترڅو د هېواد په خصوصي روغتيايي مرکزونو د بهرنيو او داخلي ډاکټرانو، نرسانو او نورو روغتيايي کارکوونکو شتون، فعاليت، تحصيلي اسناد، جوازونه او د اقامت سندونه وڅېړي، چې د سرغړونو په صورت کې به قانوني اقدامات تر سره کړي.

د نظارتونو ياده لړۍ چې څه موده وړاندې پيل شوې، په ترڅ کې يې له رايان دانش، امان د سترګو او مدرن روغتونونو او حضرت فاطمه الزهرا او رائيد سراپا کلينيکونو څخه نظارت ترسره شو، چې اړوندو مسؤلينو ته د باکيفيته تخصصي او معياري خدماتو وړاندې کولو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې دغه نظارتي بهير به له کابل وروسته نورو ولايتونو کې هم د روغتيايي قوانيو د تطبيق په موخه عملي شي او د مسؤلينو له لوري به له سرغړونکو سره قانوني چلند ترسره کېږي.

## Inspections initiated at private health centers across the country to oversee and regulate the work of foreign and local doctors.

An authorized committee, led by Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Chief of the Medical Council at the Ministry of Public Health, to review the presence, activities, educational credentials, licenses, and residence documents of foreign and domestic doctors, nurses, and other health workers in private health centers across the country, and for taking legal action in cases of violations.

The monitoring process, launched some time ago, covered Rayan-e-Danish, Aman Eyes, Modern Speciality, Hazrat Fatemeh Zahra, Raeed OPD Hospitals with necessary recommendations given to the relevant officials to improve the quality, specialization, and standardization of services. This process will continue in other provinces after Kabul to enforce health regulations, and authorities will take legal action against any violations.

# د بکتریالوژۍ په اساساتو کې د لابراتوار د تشخیصیه مهارتونو پیاوړتیا او د میکروبونو پر وړاندې د مقاومت تشخیص" تر سرلیک لاندې څلور ورځنی روزنیز ورکشاپ پیل شو

د یاد ورکشاپ موخه د بکتریالوژۍ برخه کې د تشخیصیه ظرفیتونو پیاوړتیا او د هېواد د لابراتوارونو په کچه د میکروب ضد مقاومت تشخیص لپاره د معیاري زیربنا رامینځته کول دي، چې په کې د هېواد له ۲۸ ولایتونو څخه ۳۰ تنه د لابراتوار برخې کارکوونکو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزارت د تشخیصیه خدمتونو سرپرست، ډاکټر اول خان شفق ګډونوالو ته د خپلې وینا په ترڅ کې وویل: " چې د دې ورکشاپ موخه د نویو میتودونو، دقیق تشخیص او معیاري لابراتواري پروسیجرونو سره آشنايي ده؛ تر څو د خدمتونو کیفیت ښه شي، هیله ده چې دا ورکشاپ به د مهارتونو په پیاوړتیا او همکاریو ښه والي کې اغېزمن رول ولوبوي". همدارنګه د دې ورکشاپ پرانیسته کې د عامې روغتیا وزارت د مرکزي لابراتوارونو امر، ډاکټر مسعود دلسوز د لابراتوارونو د اهمیت په اړه هر اړخیزه وینا تر سره او ټینګار یې وکړ، چې تدریس شوي موضوعات باید په عملي توګه په لابراتوارونو کې پلي او په سمه توګه ترې کار واخیستل شي.

# ورکشاپ آموزشی چهار روزه تحت عنوان "ارتقاء مهارت‌های تشخیصیه تکنیشن‌های لابراتوار در مبانی بکتریالوژی و تشخیصیه مقاومت ضد میکروبی" آغاز گردید.

در این ورکشاپ، ۳۰ تن از تکنیشن‌های لابراتوار از ۲۸ ولایت کشور اشتراک نموده بودند هدف اصلی این ورکشاپ، تقویت ظرفیت‌های تشخیص در بخش بکتریالوژی و ایجاد زیربنای معیاری برای تشخیص مقاومت ضد مایکروبی در سطح لابراتوارهای کشور می باشد.

داکتر اول خان شفق سرپرست ریاست خدمات تشخیصیه وزارت صحت‌عامه در این برنامه گفت:« که هدفاین ورکشاپ، آشنایی با روش های نوین، تشخیص دقیق و پروسیجرهای معیاری لابراتواری است، تا کیفیت خدمات بهتر شود. امید است این ورکشاپ در ارتقاء مهارت‌ها و همکاری‌ها مؤثر واقع شود.»

همچنان، در جریان این ورکشاپ داکتر مسعود دلسوز آمر لابراتوار های مرکزی وزارت صحت‌عامه، در مورد نقش مهم لابراتوارها صحبت نمود و تأکید کرد که مطالب تدریس‌شده باید به‌صورت عملی در لابراتوارها تطبیق و به‌درستی از آن استفاده گردد.





## داکتر کریم‌الله حلیمی، رئیس نظارت وزارت صحت‌عامه، همراه با تیم تخنیکی شان در سفری به ولایت هلمند، از پروژه‌های ورتیکل BPHS و EPHS و شماری از مراکز صحی خصوصی این ولایت نظارت نمودند.

هدف این نظارت، ارتقاء کیفیت خدمات صحی، ارائه خدمات معیاری به شهروندان و تضمین شفافیت در کارها است و در این سفر داکتر حلیمی با مولوی فضلی احمد شفیع الله رئیس صحت‌عامه هلمند، ملاقات کرده و اهداف سفر را با وی در میان گذاشت. همچنان، مطابق برنامه، از مراکز صحی در ولسوالی‌های لشکرگاه، ناوه، نادعلی، گرمسیر، مارجه، نوزاد، موسی‌قلعه، نهر سراج و بهرام‌چه نظارت به عمل آمد و در این نظارت ها، مشکلات و کمبودی های موجود شناسایی و با مسئولین مربوطه به منظور یافتن راه‌حل‌های مناسب، به اشتراک گذاشته شد. همچنان، رئیس نظارت، وضعیت بیماران داخل بستر را پرسید و به کارکنان صحی هدایت داد، تا علاوه بر رفتار مناسب با بیماران، خدمات صحی با کیفیت را نیز به آنان ارائه نمایند.

## Dr. Karimullah Halimi, Director of Monitoring and Inspection at the Ministry of Public Health, visited Helmand province to inspect BPHS and EPHS vertical projects, along with several facilities in the private health sector.

The inspection, aimed at improving the quality of health services, providing standard health care to the public, and ensuring transparency in operations, included Dr. Karimullah Halimi and his delegation meeting with the Director of Public Health of Helmand Province, Fazal Ahmad Shafi, to explain the purpose of their visit. As planned, they inspected all departments of health centers in the provincial capital, Lashkar Gah, as well as in the districts of Nawa, Nad Ali, Garmsir, Marja, Nazwad, Musa Qala, Nahri Saraj, and Bahram Cha. They identified problems and shortcomings and reported them to the relevant officials for resolution. The Director of Monitoring also assessed the condition of inpatients and advised health workers to provide them with improved care and treatment.



# نورستان ولایت کې د بیلابیلو روغتیایي مرکزونو ۲۰ تنه واکسیناتورانو ته ۱۲ ورځنۍ روزنیز ټرینینګ ورکړل شو.

یاد ټرینینګ د مجربو استادانو له لوري واکسیناتورانو ته د مسلکي وړتیا لوړولو، د واکسیناسیون خدمتونو د کیفیت ښه والي او ماشومانو ته د واکسین پوښښ پراخولو په موخه ترسره شو، چې په کې د واکسین د تطبیق معیاري طریقې، د ضایعاتو کنټرول، د راپور ورکولو سیستم، د سوړ زنځیر مدیریت او د عامه پوهاوي لارې چارې شاملې وې.

## برای ۲۰ تن از واکسیناتوران مراکز صحی مختلف، در ولایت نورستان، یک برنامه آموزشی ۱۲ روزه برگزار شد

این برنامه آموزشی توسط استادان مجرب، به هدف ارتقاء ظرفیت مسلکی واکسیناتوران، بهبود کیفیت خدمات واکسیناسیون و گسترش پوشش واکسین برای اطفال راه اندازی شد.

در این برنامه، موضوعاتی مانند روش‌های معیاری تطبیق واکسین، کنترول ضایعات، سیستم گزارش‌دهی، مدیریت زنجیرسرد و روش‌های آگاهی‌دهی‌عامه شامل بودند.

## Twenty vaccinators from various health centers in Nuristan province complete a 12-day training program.

The training was conducted by seasoned instructors to enhance the professional skills of vaccinators, improve the quality of vaccination services, and expand vaccination coverage for children. The program covered standard vaccination techniques; waste management; reporting systems; cold chain management; and methods for raising public awareness.



## ۲۸ تنه متخصصینو ته یو روزنیز پروګرام ترسره شو

د افغانستان د عامې روغتیا ملي انسټیټیوټ لوی ریاست، د روغتیایي څېړنو او کلینیکي مطالعاتو ریاست له لارې، د مرکز او ولایتونو کندز، بلخ، هرات او ننګرهار  څخه ۲۸ متخصصینو ته د څېړنې میتودولوژي ډیپلوم کورس په مرکز کابل کې پیل کړ، چې د سپتمبر تر ۲۵ مې پورې به دوام وکړي.

## یک برنامه آموزشی، برای ۲۸ تن از متخصصین برگزار شد

ریاست عمومی انستیتوت ملی صحت‌عامه افغانستان، از طریق ریاست تحقیقات صحی و مطالعات کلینیکی، کورس دیپلوم تحقیق در میتودولوژی را برای ۲۸ تن از متخصصین مرکز و ولایات که شامل ولایت های کندز، بلخ، هرات و ننگرهار می‌شوند در مرکز آغاز نموده و قرار است این برنامه الی تاریخ ۵ سنبله ادامه یابد.




### هــرات، کاپیسا او بلـخ ولایتــونو کې له یو شمېر فابریکو، خوراکي توکو پلورنځیو او روغتونونو څخه نظارت تر سره شو.

یاد نظارت چې د عامې روغتیا مسؤلینو له لورې تر سره شو، پایله کې یې هرات ولایت کې ۲۹ پاکټه غیر مجاز توکي او ۸٦ بیلره خوراکي مواد او د کاپیسا ولایت په تګاب ولسوالی کې ۱۰۰ کیلوګرامه غیر معیاري خوراکي مواد راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي ګدام ته ولېږدول شول.

همدارز، بلخ ولایت کې د یو خصوصي روغتون عملیات خونه، یو لابراتوار او د جوس د تولید یوه فابریکه له روغتیایي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شوه.




# د عامې روغتيا وزارت اوونيزه!

## (پرليـــکه خپـــرونه)

تېر يو کال کې د ملالی ولادي دولتي روغتون کې شاوخوا (۱۱۳۱) وړيا جراحي عملياتونه ترسره شوي.

| ستر جراحي عملياتونه | کوچني جراحي عملياتونه | OPD خدمتونه | IPD خدمتونه |
|---|---|---|---|
| (٦٠٧) | (٥٢۴) | (١٢١٦٩١) | (۴٠٩٩٢) |